# د پروین ملالې د شاعرۍ ارتقائي سفر

(د اولس مجلې له دوره تر 2010ء پورې)

# An Analysis of the evolution of the poetry of Parveen Malal: In the light of Ulas Journal Quetta Till 2010

حافظ رحمت نیازی*

**Abstract**:

Parveen Malal is one of the prominent poetess of Pashto literature and published various books which gained popularity in the literary fields. In this paper the author critically evoluated her poetry.The author comprehensively discussed the artistic approach of Parveen Malal in the light of Ulas Journal Quetta and after that till 2010. He opines, that her poetry had slowly and gradually improved particularly, her poetry of early 70's lacks maturity, powerful imagination and poetic demerits. The author pointed out that the poems Khwast, Laka Lalmi Lalmi Gul, Atanchi Ta, Eeman, Ta Rata Wowayeh, Da yatim Oshki, Za Laka Mata Tsanga, Souk Ba Dasee Rashe, Laman Wache Wrezi and Zakhmi Bulbala which have recurrently been included and published in her three books.

پروین ملال د پښتو د جدیدې شاعرۍ یو ډېر اهم نوم دی، تراوسه پورې یې درې شعري ټولګې چاپ شوې دي، او د خپل ځانګړي اسلوب په وجه یې په ادبي دنیا کښې ډېر زیات شهرت موندلی دی، په دغه مقاله کښې مونږ د پروین ملالې د شاعرۍ په ارتقائي سفر بحث کوو او دا څرګندوو چې شاعري یې تر کومو پړاوونو را تېره شوې ده.

د پروین ملالې په پښتو شاعرۍ کښې د اولس مجلې له دوره وروسته داسې ځانګړې ځای دی چې په ښځمنو شاعرو کښې له ورایه ښکاره دی. د دې مقام به حتماً جلا وي چې شاعري یې د نورو ښځمنو په شان ساده او عام فهمه نهٔ ده بلکې له استعاراتو، تشبیهاتو، کنایو او په خاص ډول له تلمیحاتو داسې ډکه ده چې څوك به دا ګمان کوي چې د پروین ملالې په بې استعارې شعر لیکلو له سره د شعر تنده نهٔ ماتېږي او په شاعري کښې به یې استعارات او تشبیهات ولې نهٔ وي چې د زده کړې پیل یې په تشبیه او استعاره کړی دی. دا وایي:

"زما علم دوست پلار د لومړي ځل دپاره قلم په لاس راکړ او راته یې وویل چې بسم الله شریفه ولیکه او ما د پلار په مرسته ولیکل، یوه ورځ ماپښین یې د اوومې پېړۍ د ستر شاعر سعدي

---

* Ph.D Scholar, Department of Pashto, University of Balochistan Quetta

ګلستان راته اهدا کړ او بیا یې په خپله راته د هغۀ لوست پیل کړ، زما په ذهن کښې تر اوسه د کتاب د پیل نثر د خپل ټول فصاحت، بلاغت او صوري ښایست سره انځور دی"(1)

د شېخ سعدي په شاعرۍ کښې د ګلستانِ سعدي مقدمه دومره مشهوره او دومره ګرانه ده چې له استعاراتو او تشبیهاتو پرته په کښې بل څۀ شته نۀ، او د درس نظامي ډېر لوی لوی عالمان یې په ډېر مشکل سره درس کوي، د نمونې دپاره چې پروین ملالې کومې جملې ذکر کړې دي هغه وګورئ:

"فراش باد صبا را گفته تا فرش زمردین بگسترد و دایۀ ابر بهاری را فرموده تا بنات نبات درمهد زمین بپرورد"(2).

د پروین ملالې په ژوند باندې بشپړه تبصره کول ځان ته مقاله غواړي دلته یوازې د هغې د ځیرکتیا او شاعري په اړه خبره کوم هغه دا چې د کوم چا د شعر ویلو ابتدا د شېخ سعدي د ګلستان په مقدمه کېږي او هغه مقدمه چې د فارسي او نورو ژبو د ویونکو په دې اتفاق دی چې د شېخ سعدي د ګلستان مقدمه د استعاراتو او تشبیهاتو یو سمندر دی او په دې ځان پوه کول د هر چا د وس کار هم نۀ دی. خو پروین ملال له ماشومتوبه له دغو استعاراتو سره مخامخ ده. او د شېخ سعدي د مقدمې ویلو اثرات د دوی په شاعرۍ کښې د اولس مجلې له دوره وروسته له ورایه برېښي، او په دغه سوب یې له شعر سره مینه د جنون تر حده پاتې شوې ده او ماحول هم داسې شاعرانه او ادیبانه ورته جوړ شوی دی چې حتماً به یې د ښۀ شعر لیکلو هڅه کوله او دا وایي:

"دومره مې په یاد دي چې شاعري مې ډېره خوښېدله کله کله به مې د درسونو په کتابچو کښې د ناشناس سندرې او له ورځپاڼو شعرونه لیکل، زما ورور چې به ولیدل پلار ته به مې په شکایت ولاړ چې پروینه درس نۀ وایي حماقت ښکاره کوي په کتابچو کښې سندرې لیکي"(3).

ما چې د پروین ملالې په کتاب کښې دا خبرې ولوستې ډېر مې زړۀ یخ شو چې په پښتنې ټولنه کښې له خپل فن سره د جنون تر حده مینه ولري دا ډېره لویه خبره ده او چې څوك دغې درجې ته ورسي نو په فن کښې پوخوالی او سبقت حتماً راځي، او د ارتقائي سفر د تسلسل دپاره هم دغسې کیفیت په کار دی. د ادبي ماحول یو بل ښکلی منظر وړاندې کوي او وایي:

"یوه ورځ مې ناڅاپي ډول څو ګډ وډ بیتونه ولیکل زما اوس هم په یادېږي چې په هغه لومړني شعر کښې څومره نیمګړتیاوې وې هغه مې په مستعار نامه طلوع افغان ورځپاڼې ته واستول د دا بلې ورځې په ورځپاڼه کښې خپارۀ شول، نو دومره خوښه شوم چې د هغې ورځې خوارۀ مي تراوسه کله کله د ذهن زخمونو ته ورغاړه وځي"(4).

دا د پروین ملالې د شاعرۍ ابتدائي زمانه ده د شعر ژبه، فکر، پیغام، او د بیان انداز، د تورو په ځای استعمال یې د نورې شاعرۍ څخه ډېر جلا غوندې ښکاري، د مینې جذبات، د وصال کیفیتونه، د بې وفائي شکایت، د مجازي مینې خوارۀ او سترې کوونکي احساسات یې په شاعرۍ

کښې له ورایه ښکاري، دا د پروین ملالۍ د هغه دور شاعري ده چې په لومړۍ شعري ټولګه "د اوښکو تصویر" کښې چاپ شوې ده. د دې د شاعرۍ د جاج اخستلو په وخت باید چې لومړی د دې هغه شاعري وګورو کومه چې په اولس مجله کوټه کښې چاپ شوې دې او دا شاعري یې په کتابونو کښې نۀ ده چاپ شوې، په دغه دور کښې د دې او د دې د خور غزلونه څنګ په څنګ په اولس مجله کښې را روان وو او وخت په وخت به چاپ کېدل، دا هغه ابتدائي شاعري بللی شو چې اندازاً د اویا په لسیزه کښې شوې ده، او ډېره عامه، ساده او تر یو څۀ حده سطحي شاعري هم ده، د نمونې دپاره یې دا دوې غزلې وګورئ:

"زۀ دا هسې خوار ذلیل او زبون چا کړم
د خپل یار په تورو زلفو مفتون چا کړم

د اشنا سره خندانه به پروا وم
مبتلا زۀ په هجران او بېلتون چا کړم

چې د مینې راز و نیاز ؤ تر سهاره
یک تنها تر صباؤنه محزون چا کړم

ناخبره وم خوږمنو زړو له حاله
اوس خبره په فرهاد و مجنون چا کړم

په دنیا کښې د هیڅ غم راسره نۀ ؤ
په غمو کښې ګرفتار په ژوندون چا کړم

په کلو کلو روغ زړۀ وم سم انسانه
مات زړګی روان په دښت و هامون چا کړم"(5)

په پورتني غزل کښې چې له ننه تقریباً دوه څلوېښت کاله مخکښې لیکل چاپ شوی دی، چې ښه یې ډېره پیکه ده او د یوې مشهورې غزل په مځکه کښې لیکل شوی دی، او په یو دوو شعرونو کښې خو فني نمګړتیا هم موجوده ده خو له دې غزل وروسته په 1973ء کښې په دغه اولس مجله کښې یو بل غزل چاپ شوی دی چې د سوچ او فکر په اړه ورسره اختلاف کېدی شي خو په فني لحاظ مکمل او بشپړ غزل دی. دلته د پروین ملالۍ په شعر لیکلو څۀ قدرت پیدا کړی دی، خو دا ضروري نۀ ده چې یو کال یا څو میاشتې وروسته یې داسې غزل لیکلې وي کېدی شي دا غزل تر وړومبی غزل ډېره

وروسته لیکل شوې وي خو د لیکلو په حواله نۀ بلکې چاپ په حواله چې ورته ګورو نو هم ویلی شو چې دا غزل تر پورتني غزل وروسته دی، د دې غزل نمونه وګورئ:

"بې وفا یار چې زما څخه په بهانه لاړ
لېونی زړۀ د کوګله دیوانه لاړ

تورې زلفې وې په سپین مخ خورې کړې
په مکېز او په ادا کښې مستانه لاړ

د لاله سرې هم رنګ دې ګلاب شونډې
د بانو خنجر سره ډېر بې رحمانه لاړ

د راتلو لار مې څارله انتظار کښې
چې راغلی نۀ ؤ بېرته شتابانه لاړ

ما یې واچاوۀ ګرېوان ته لاس چې ګوره
ناکام روح مې تا پسې دېوانه لاړ

ما شکوه وکړه د لاسه د رقیبه
دۀ جواب راکړ د سترګو په کانه لاړ

چې په حسن په ښکلا یې شوم مینه
روح مې تن څخه دۀ پسې بېګانه لاړ"(6)

د پروین ملالې له پورتنیو غزلو وروسته کله چې د نیوي په لسیزه کښې د دې په کتاب "د اوښکو تصویر" کښې کومه شاعري چاپ شوې ده هغه که څۀ هم په لومړي سر کښې له استعاراتو او تشبیهاتو خالي نۀ ده خو کمی په کښې محسوسیږي دا بیله خبره ده چې مقصدي او له پېغامه ډکه شاعري ده، رنګ یې جذباتي او د مینې دی.

خو د دې له خبرو معلومیږي چې وروسته ورته ښۀ ادبي ماحول میسر شوی دی او دومره مینه یې له خپل فن سره پیدا شوې ده چې د شعر په چاپولو یې خولۀ په عمرونو عمرونو خوږه وي او چې د چا په شعر چاپولو داسې کیفیت وي او هغه طلوع افغان چې مولوي صالح محمد د دې تر پیدایش اووۀ دېرش کاله له مخه پیل کړی ؤ او په هغه طلوع افغان کښې د دې شعرونه چاپ کیږي نو لامحاله به د ښۀ شعر لیکلو هیله ځنې کیږي. او پروین ملالې هم دلته په شعر لیکلو ښۀ قدرت پیدا کړی دی. په

رنګ او ستائل کښې يې هم سوکه سوکه بدلون راغلی دی، د دغه دور د شاعرۍ مضامين يې مقصدي دي، تشبيهات او استعارات يې نادر دي، کنايې او اشارات يې شعر ته ډېره ښکلا بخښلې ده، ژبه يې روانه او ساده ده، لفظي صنعتونه او تلميحات په کښې ډېر دي: لکه دا شعرونه چې:

"نـــــهٔ دې مينـــــه محبـــــت زمـــــا د زړهٔ ځـــــي
نـــــهٔ مـــــې اوښـــــکې ســـــتا د ســـــوزه د لېمـــــهٔ ځـــــي
نـــــهٔ دې غـــــم زمـــــا د غـــــم ســـــره ســـــازش کـــــړي
نـــــهٔ دې فکـــــر د فکـــــرو ســـــره پـــــه تلـــــهٔ ځـــــي
نـــــهٔ توبـــــه کـــــړي ګنهګـــــار زړهٔ ســـــتا د مينـــــې
نـــــهٔ تـــــدبير شـــــومه همـــــېش دا ســـــتا پـــــه پلـــــهٔ ځـــــي"(7)

خو دا يې د شعر ښېګړه ده چې ارتقائي سفر يې مخ په وړاندې روان دی نوښت، پوخوالی او نازکوالی خپلوي او د بلاغت او فصاحت خوا ته يې شعر هڅه کوي لکه د دغې شعري ټولګې څو شعرونه يې وړاندې کوم:

"بېګـــــاه مـــــې پـــــه زړهٔ څـــــهٔ شـــــانې ګيلـــــې تلـــــې او راتلـــــې
د ژبـــــې پـــــه ســـــر مـــــاتې څـــــو جلـــــې تلـــــې او راتلـــــې
د زلفـــــو فـــــرش مـــــې جـــــوړ کړلـــــو د خيـــــال پـــــه اســـــمانو کښـــــې
پـــــه هغـــــه لاره بانـــــدې چـــــې ســـــتا پښـــــې تلـــــې او راتلـــــې"(8)

په دغه شعري مجموعه کښې که څهٔ هم په شعر ليکلو پروين ملاله ګرفت لري خو د دې د بې فهمۍ له کبله يا د کاتب د غلط کتابت له وجې د جوړښت د فن په لحاظ نيمګړتياوې هم څرګيږي، په لومړي چاپ کښې نهٔ يم خبر چې څنګه به وي خو په دويم چاپ کښې چې "د خزان طلائي پلونه" نومې کتاب کښې د اوښکو تصوير کوم شعرونه چاپ دي په هغه کښې يو نظم چې د څلورو مصرعيزو بندونو په بڼه کښې ليکل شوی دی.

داسې شعرونه کله کله شاعران قصداً هم ليکي خو د نيوکې ګنجائش به ډېرته په شاعر راځي چې په نتيجه کښې به يې ځنې د شعر پوهان د شاعر کمال ګڼي او ځنې به يې د شاعر نيمګړتيا ګڼي او د دې دواړو امکان ورڅخه کېدی شي، لکه چې دې اړخ ته ښاغلي درويش دراني هم نظر کړی دی او دا يې د شاعر فني نيمګړتيا ګڼلې ده، درويش درانی ليکي:

"مونږ ته داسې نظمونه هم په مخه راځي چې روغې روغې مصرعې يې په کښې شاعر ټوټه کړې وي او يوه مصرعه يې د دغسې ټوټو په بڼه په دوو يا درو کرښو کښې ليکلې وي، د دې علت دا دی

چې دغسې شاعران د یوې مصرعې او یوې ټوټې تر منځ توپیر نهٔ شي کولی. یوازې د هغو شاعرانو له شاعرۍ څخه ځنې نمونې دلته وړاندې کوم چې زهٔ زړهٔ ورباندې لرم، نږدې ملګري مې دي او پوهېږم چې په دغسې خبرو کښې رې نهٔ وهي، په دغسې ملګرو کښې تر ټولو ما ته نږدې او زړهٔ ته را تېر محمود ایاز دی، لومړی مثال زهٔ د هغهٔ له کلامه را اخلم، ګران ایاز په خپل کتاب "تنهاکې د خیال" مخ 101 کښې د "یو شعر یو نظم" تر سرخط لاندې لیکي:

تـــا تـــه چـــې ګورمـــه نـــو خـــون د ارزوګـــانو کـــوم
تـــا تـــه چـــې نـــهٔ ګـــورم د اوښـــکو د ســـېلاب وېـــره ده

تا ته چې
ګورمه
نو خون د ارزوګانو کوم
تا ته
چې نهٔ ګورم
د اوښکو د سېلاب وېره ده

دلته ښاغلي شاعر دا کړي دي چې یو بیت یې لیکلی دی او هغه ته یې شعر ویلی دی او بیا یې دغه شعر ټوټې ټوټې کړی دی او په بېلابېلو کرښو کښې یې لیکلی دی، دا ډول د دهٔ په خیال پابند شعر په ازاد نظم بدل شوی دی. خو دې ته یې پام نهٔ دی کړی چې ازاد نظم تش د وړو وړو ټوټو یا اوږدو او لنډو کرښو نوم نهٔ دی بلکې هره کرښه که هغه لنډه وي که اوږده پر خپل ځای باندې پوره مصرعه وي"(9).

دغسې شعرونه د پروین ملالۍ په وروستنۍ شعري ټولګه کښې هم راغلي دي چې له غزل څخه یې ازاد نظم جوړ کړی دی، کله چې ما دغه مقاله د پښتو ادبي غورځنګ له خوا په تابیا شوي سیمنار (دوه پټکي دوه ټیکري" کښې وړاندې کوله او هغه وخت ما دا ویلي وو چې کېدی شي دا د کاتب غلطي وي خو وروسته چې د پروین ملالۍ څلورمه شعري ټولګه "وخته! راستون شه" چاپ شو او اوس مې بیا په هغه ښه کښې دا غزل د نظم په ښه کښې ولید نو زما خیال دا د کاتب غلطي نهٔ ده، پروین ملالۍ قصداً داسې کړي دي او پروین ملالۍ بیا د دې وضاحت هم و نهٔ کړ خو بیا هم کېدی شي چې د کاتب غلطي وي ځکه چې د وخته راستونه شه ډېره شاعري له "د خزان طلائي پلونه" نومې کتاب څخه اخستل شوي دي خو زما په خیال دا غلطي د زر زر کتاب چاپ کېدو له کبله شوي دي ځکه چې د پروین ملالۍ څلورم کتاب "وخته راستون شه" چاپولو ته لاډېر وخت پاتهٔ وو په یو څو غزلو یا نظمونو باندې خو کتاب نهٔ شي بشپړ کېدی چې له کبله یې پروین ملالۍ ډېر نظمونه او غزلې په وړومبنیو کتابونو کښې هم چاپ کړي دي او په وروستني کتاب کښې بیا چاپ شوي دي، د مثال په توګه په لاندیني ټېبل کښې دا څو نظمونه

وګورئ چې په تېرو کتابونو يعني "تبجنه سپوږمۍ" سپوږمۍ په ځنګلزار کښې" او "د خزان طلائي پلونه" نومې کتاب کښې چاپ شوي دي خو په وروستني کتاب کښې بيا چاپ دي.

| شمېر | سرليک | سپوږمۍ په ځنګلزار کښې، مخ | د خزان طلائي پلونه، مخ | وخته، راستون شه مخ |
|---|---|---|---|---|
| 1 | خواست | 1 | 118 | 4 |
| 2 | لکه للمي للمي ګل | 6 | 123 | 5 |
| 3 | اتڼچي ته | 68 | 181 | 11 |
| 4 | ايمان | 64 | 177 | 86 |
| 5 | تهٔ راته ووايه | 11 | 127 | 43 |
| 6 | د يتيم اوښکې | 50 | 164 | 82 |
| 7 | زهٔ لکه ماته څانګه | 14 | 175 | 75 |
| 8 | څوک به داسې راشي | 43 | 157 | 30 |
| 9 | لمن وچې وريځې | 61 | 174 | 26 |
| 10 | زخمي بلبله | 70 | 183 | 62 |

دا هغه نظمونه دي چې په دريو سره کتابونو کښې په پورتنيو صفحو باندې راغلي دي او له دې زما په پروين ملالې د شك ښخي نهٔ دی چې دې د کتابونو د زياتوب په نيت داسې کړې دي، خو دا ويلی شم چې دا به يقيناً يو عذر وُ چې داسې يې کړې دي، ګني پروين ملاله د خپلې شاعرۍ په زور په يو غزل هم ټول عمر ژوندۍ پاته کېدی شي. خو زهٔ وايم چې د پروين ملالې له خوا دومره بې پرواهي يا د چاپ کوونکو له خوا دومره بې پرواهي بايد چې نهٔ وی شوې ځکه چې دا د سبا محقق دپاره ستونځې پيدا کوي او هغه به د پروين ملالې په ټولو شعري ټولګو پسې ګرځي حالاتکې دا ټوله شاعري په يو ديوان کښې په اساني سره راتلی شوه. بيا يې دا هم غلطي کړې ده چې په يوهٔ کتاب کښې يې هم فهرست نهٔ دی ورکړی. دلته ښيرته هغې خبرې ته راځم چې د پروين ملالې داسې شعر وړاندې کوم چې زما خيال دا شعرونه د نظم په ځای د غزل ښې ته زيات ورته دي، او د جوړښت په شکل يې د چا په دغه نظم د غزل ګمان کيږي او چې دوې مصرعې سره يو ځای شي نو د غزل يوه مصرعه ځينې جوړيږي. لکه دا:

**لنډه مسکا**

"کاشکې مې احساس دومره ياري
راسره وکړی شي
وژاړم له درده بې دردي ته
په غوغا شمه

دوېم بند يې داسې دی

ټوله ورځ مې سترګې
یوۀ څاڅکي ته په لاره وي
شپه راغله خاونده!
په امید د بل سبا شمه"(10)

داسې دا نظم تر پایه په څلورو مصرعو کښې د ردیف او قافیې له پابندۍ سره سره روان دی خو ښکاري چې داسې شعر د غزل بڼه هم غوره کولی شي خو زما د نظر په اساس د دې نظم خوبي دا ده چې هم نظم دی او هم غزل، د غزل بڼه یې داسې کېدی شي:

کاشکې مې احساس دومره یاري راسره وکړای شي
وژاړم له درده بې دردي ته په غوغا شمه

دویم بند یې داسې دی

ټوله ورځ مې سترګې یوۀ څاڅکي ته په لاره وي
شپه راغله خاونده په امید د بل سبا شمه

چا ته انتظار کړم کومې مینې په لټون شمه
چا ته بانۀ ټیټ کړم د کوم دید په تماشا شمه

له دې لومړي شعري ټولګې وروسته پروین ملاله یو مخ د ژوند له ستونځو او ناخوالیو سره مخامخ کیږي او ژوند یې د غمو د یو لوی بهیر په ډول له ناکړدو ډك بهیږي، او په شاعري کښې یې د مینې د جذبې له څرك سره سره د انسانیت او کوټلې اولس او ملت خصوصاً د ښځو ستونځې د یوې رڼې چینې په شان بهیږي چې هر ناکام ارمان او سترې امید او نۀ پوره کېدونکې هیلې د استعارو او تشبیهاتو په بڼه کښې د بلاغت او فصاحت په جامه کښې د خپل شعور و لمن ته سپاري او وایي چې:

"ژبې پښتنې زما ستا نه حیا وکړله
زړۀ کښې د اظهار جملې راغلې او بیا ولاړلې

هیله لکه ناوې ژړه غونې شوه
وصل کښې د هجر واوېلا کوي"(11)

داسې په دغه دویمه شعري ټولګه کښې یو ښکاره او امتیازي رنګ د تلمیح په بڼه کښې ډېر زیات ښکاره شوی دی، او دا ښکاره کوي چې پروین ملاله د تاریخ او په ځانګړي ډول د اسلامي تاریخ په بشپړه مطالعه لري او په تلیمحاتو کښې یې هغه ډېرې قیصې بیان کړې دي کومې چې په

قرآني آیتونو ثابتې دي، او یا په بېلا بېلو روایتونو کښې راغلي دي، د نمونې دپاره دا شعرونه وګورئ:

کنعــــاني مینــــې کچکــــول پــــه لاس کښــــې راکــــړ
زلېخــــا شــــومه د مصــــر پــــه کوڅــــو کښــــې

بیــــا د وخــــت طوفــــان ســــترګې ســــرې کــــړې دي
نــــوح تــــه د بــــل چــــم قیصــــه لاپاتــــه ده

نــــن د هــــاجرې شــــونډې بیــــا وچــــې دي
دښــــت تــــه د زمــــزم قیصــــه لاپاتــــه ده

کــــه ګرېــــوان ســــتا د یوســــف بــــوی راوړي
پــــه تــــار د زلفــــو یــــې ګنــــډل غــــواړم

د هجــــران پــــه وینــــو ډکــــه مــــې لمــــن د کــــربلا شــــوه
حســــېني بردمــــه خالونــــه کــــه بیــــا راشــــې دې کــــوڅې تــــه
د وطــــن مینــــه کنعــــاني مینــــه شــــوه
مــــا یــــې کــــوڅې مــــا یــــې ګــــودر ونیــــوی"(12)

د بېلا بېلو موضوعاتو په بهیر کښې ورکه پروین ملاله په داسې نادرو جملو شاعري پسولي چې د شعر ښکلا یې یو په دوه کړې ده، د جملو ساخت یې ډېر خوندور دی، شاعري یې ځان ته رنګ او خوند لري، د تورو انتخاب یې ډېر زړهٔ منونکی دی. او هره کشیده یې په خپل ځای زېب کړي او وایي:

"غــــم راکــــوي بــــدل یــــې صــــبر غــــواړي
دوه مېلمانــــهٔ څنګــــه پــــه کــــور ومنــــو
د لمــــر پــــه وینــــو شــــپې هســــتي واخســــته
څنګــــه ســــبا د شــــپو پــــه پــــور ومنــــو"(13)

د پروین ملالې شعري سفر د ارتقاء په پوړ یو قدم په قدم مخ په وړاندې روان دی، دا اندازه یې هغه وخت ښهٔ کېدی شي چې درې سره مجموعې یې څوك په خپل خپل وار ووایي او دې سفر ته یې هم پام وي، د فکر او موضوعاتو په اړه د ښهٔ ژوند د څلوېښت کلنې غمیزې درد یې په شدت سره محسوس کړی دی، بیان انداز یې نور هم پوخ شوی دی، د محاوراتو او ضرب الامثالو استعمال په کښې عام شوی دی چې دا کله کله شعر له مشکل پسندۍ سره مخامخ کوي، او ورسره یې خپله تنهائي هم په نظر کښې نیولې ده، د مهاجر شویو او بې کوره شویو انسانانو دپاره د سوکالۍ او امن

غوښتلو داسې ناولده انداز خپلوي چې اسماني د رحمت اوبهٔ يې د مظلوميت او بې وسۍ له رږغ سره نابېره را اوري لکه د للمي ګل نظم کښې چې وايي:

"لکه للمي ګل د باران په تمه
لکه ګودر د منګو لمس ته تږی
لکه سپېدې
د رڼائي په ارمان
او لکه يو کور
لکه يو کور چې
بې له ښځې وي
وران
داسې زمونږ د وختو سترې
انسان
يوه شېبه غواړي چې
ساه وباسي
يوه شېبه غواړي چې
خوب وکړي
د ارامۍ په لېڅو
د ارامۍ په لېڅو"(14)

د پروين ملالې په نظمونو کښې ازاد او معرٰی دواړه قسمونه موجود دي او هر يو نظم يې د يو ژوندي کردار غوندې د تورو په ژبه رږغيږي خبرې کوي کله له ستورو سره خاندي، کله ستوري ورسره خاندي، کله له سپوږمۍ سره خبرې کوي او کله لمر ورسره په سرګوشۍ اخته وي، په څنګ کښې ورسره لوستونکی له ناهيلۍ سره نهٔ پرېږدي بلکې د نوي عزم او حوصلې درس او ډاډ ورکوي چې راتلونکې شپې به د خوشحالۍ په لباس کښې راځي.

### "د خوشحالو ښاپېرۍ ته

اې د انسان د خوشحالو ښاپېرۍ!
ما ته د دوو شونډو مسکا راکړه
چې مې تيارهٔ نړۍ پرې بيا روښه شي

د ډیوو سترګو یې رڼا راکړه
د هغه سترګو چې په هر کاڼۀ کښې
ما ته د میني پیغامونه ګرځي
د هغه سترګو چې په هر یورپ کښې
د تواضع ډك سلامونه ګرځي
د هغه سترګو چې په هر یو رنګ کښې
د ښایسته ژوند زینتونه ګرځي
اې د انسان د خوشحالو ښاپیرۍ!
ما ته د دوو شونډو مسکا راکړه
چې مې تیارۀ نړۍ پرې بیا رونه شي
د ډیوو سترګو یې رڼا راکړه"(15)

## نتیجه:

د پورتنۍ ټولې مقالې په نتیجه کښې مونږ دا ویلی شو چې د پروین ملالې د شاعرۍ سفر وخت په وخت مخ په وړاندې روان معلومیږي، په لومړي سر کښې یعني هغه غزلې چې دوی لیکلې دي او په اولس مجله کوټه کښې چاپ شوې دي هغه غزلې یې په لس ګونو چاپ شوې دي او د دوی په شعري ټولګو کښې نۀ دي موجودې، دغه د اولس مجلې غزلې یې په ډېر ساده او اسان انداز لیکلې دي، او ځای په ځای له عام او ساده خیال سره په کښې فني نیمګړتیاوې هم موجودې دي، په دویمه ټولګه د اوښکو تصویر کښې یې لږ انداز بدل کړی دی، او د شعر بڼه یې څۀ نا څۀ پخه ښکاري، خو په دویمه شعري ټولګه تبجنه سپوږمۍ کښې یې شاعري د موضوع او پیغام په حواله ډېره لوړه ده، د استعاراتو، تشبیهاتو او خصوصاً د تلمیحاتو په ژبه ډېره ړغېدلې ده، خو په وروستۍ شعري ټولګه "سپوږمۍ په ځنګلزار کښې" یې شاعري بیا بڼه بدله کړې ده او د اسانې شاعرۍ پر ځای یې د شعر انداز ګران کړی دی، ډېر داسې شعرونه یې شته چې د درمیاني ذهن طبقې خلق ورباندې ډېر کم پوهیږي چرې لا د لومړي ذهن خلق چې ورته به په دغو شعرو پوهېدلو کښې ډېر زیات تکلیف وي. خو کېدای شي چې په وروستۍ مرحله کښې کله چې "وخته! راستون شه" نومې کتاب چاپ کیږي پروین ملالې د لومړۍ ذهني سطحې د لیکوالو خیال ساتلی وي. او یا یې په غیر طبعي انداز داسې شاعري کړې وي.

***

# حوالې

(1) فیض زاده، پروین ملال، د خزان طلائي پلونه، (سریزه) دانش کتابتون قصه خوانۍ پېښور، 2000ء، مخ لومړی.

(2) مصلح الدین، شیخ سعدي، گلستان، (مقدمه)، 681ه.، مخ 1.

(3) فیض زاده، پروین ملال، د خزان طلائي پلونه (سریزه) مخ دویم.

(4) فیض زاده، پروین ملال، د خزان طلائي پلونه (مقدمه) مخ دویم.

(5) ملال، پروین، فیض زاده، غزل، مشموله اولس مجله کوټه، گڼه نومبر، دسمبر 1972ء، مخ 94.

(6) پروین، فیض زاده ملال، غزل، مشموله اولس مجله کوټه، جنوري 1973ء، مخ64.

(7) فیض زاده، پروین ملال، د اوښکو تصویر، مشموله د خزان طلائي پلونه، مخ 1.

(8) د اوښکو تصویر، مشموله د خزان طلائي پلونه، مخ19.

(9) درانی درویش، پښتو عروض، صحاف نشراتي مؤسسه کوټه، لومړی چاپ، 2007ء، مخ167، 168.

(10) فیض زاده، پروین ملال، د اوښکو تصویر، مشموله د خزان طلائي پلونه، مخ 33.

(11) فیض زاده، پروین ملال، تبجنه سپوږمۍ، مشموله د خزان طلائي پلونه، مخ90.

(12) فیض زاده، پروین ملال، تبجنه سپوږمۍ، مشموله د خزان طلائي پلونه، مخونه بېلابېل.

(13) پروین، فیض زاده ملال، د خزان طلائي پلونه، مخ114.

(14) فیض زاده، پروین ملال، د خزان طلائي پلونه، مخ123.

(15) پروین ملال، وخته راستون شه، پښتو ادبي غورځنګ کوټه، 2010ء، مخ56